(۳) 6/1968
۱۳۴۷
(۳) جوزا

کندهار

ددې کښې مضامین

سرمقاله	۱ مخ
د کندهار دهنری...	۲ »
کندهار	۳ »
تطبیقی تاریخ	۹ »
دلویانو ویناوی	۱۰ »
آیا ژوندلومړی...	۱۱ »
دادب وبژمی	۱۴ »
ښکلا	۱۹ »
دانسان دعمر...	۲۰ »
دمو نیخ دښار...	۲۱ »
پانامه وپېژنی	۲۲ »
دخندا پلو شی	۲۳ »
هندیا دعجایباتو...	۲۶ »
انسان دسپوږمۍ...	۲۸ »

پهلومړی اودوهمه منظره کی دمنزلباغ پخوانی عمارات لیدل کیږی

دکندهارد شاه بازار پخوانی منظره

ځلاند شفق

هغه چې تل زما دوجود په ځلانده شفق کې اوسيږي. هغه چې دسهار په رڼا کې هيڅکله خپل نقاب نه پورته کوي، يا زما خدايه! زه هم هغه د خپلې وروستې نغمې په غيږ کې ستا حضور ته دوروستې هدينې په توګه وړاندې کوم،.

الفاظو غوښتل چې هغه ترخپل اغيزې لاندې کړي او وئې غولوي خو ناکامه سول، ترغيب خپله د آرزو ډکه غيږ هغه ته پرانستلې وه خو بې فايدې.

ماهغه دخپل زړه په حرم کې ساتلې؛ په ملکونو مې وګرځاوه اودهغه په شاوخوا کې زما دژوندون عروج اوزوال، کوزاوپاس ګرځندوو.

زما په تخيلاتو، زما پروينه اوزما پرخوب ئې حکومت وکې خو بياهم يوازې اوجلااوسې.

ډېرو خلکو زمادروازه راوټکوله اوهغه ئې له ماوغوښت خو بيرته مايوسه ولاړل.

په دنيا کې هيڅ داسې نه ده پيښه سوې چې هغه دې مخامخ ياغلې سوې وي او هغه تل په خپله تنهائي کې ستا و توجه ته انتظار لري.

LIBRARY OF CONGRESS
ISLAMABAD OFFICE
18 MAR 2005
6 CONTINUATION

کندهار

د ۱۳۴۷ لمریز کال د جوزا میاشت

په ټولنه کی

د موزیم اهمیت

څرنګه چی د موزیم وجود په یوه ټولنه کی د هغی ټولنی د تېر سوی زمانی د واقعاتو، عنعناتو روایاتو، د حیاتی او اجتماعی مراحلو معرفی ده نو د دغه اصل له مخی که سړی د علمی تحقیقاتو په رڼا کی د ماضی ادوارو د هنر و مختلف شکلونه ژور نظر واچوی نو حتمی ودې نتیجی ته رسیږی چی دغه ملك د لرغونی تمدن د کاروان په چوکاټ کی تر کومی اندازې پوری مخ په وړاندی تللی دی او هم کوم رواج چی د موجوده نسل په اوسنی ژوند کی پاته دی خود بخوده ئې د هغه اصلی بڼه او د تاریخ په دوران کی و هغه ته ذ زمانی حد اټکلولای شی او پر ماضی ادوارو باندی نه ترا رڼا اچولای شی څنګه چی هر ملت د خپل تاریخ په سیر کی د یو لړ نامـلایماتو سره مخامـخ سویدی او هغه ددې موجب ګرزېدلی دی چی د هغه ملت پر مذهب، هنر، ادب صنعت اجتماعی وضع عرف او عاداتو ستره اغیزه واچوی او هغه د ځان تابع ګرځوی.

نو ځکه دلته د تېر شوو زمانو کړه وړه ټوله وهغه ؤلس ته پـه مختلفو شکلو میراث پاتیږی چی ځینی ئې د صنعت په وسیله او بعضی د هنر او ادب له لاری او ځینی نور ئې په اجتماعی توګه د عرف او عاداتو له پلوه چی د دې هر یوه ساتل پخپل ځان کی د مشخصاتو له مخی بېل، بېل طـرزونه لری خو د لرغونو آثارو د ساتنی لپاره د پېړیو، پېړیو راهیسی مختلـفو هیوادو یو په بل پسی موزیمونه تاسیس کړیدی.

څرنګه چی ګران هیواد افغانستان د اقلیمی شرایطو او سوق الجیشی نقطه نظره او هم د جغرافیائی موقعیت په لحاظ د پېړیو، پېړیو په دوران کی څو ځلی د خپل عصر د تمدن و نهائی مرحلی ته رسېدلی دی چی اوس د خارجی متخصصینو د علمی تحقیقاتو له مخی چی د هیواد په مختلفو سیمو کی کیندنی او حفریات سویدی په زړه پوری نتایج لاس ته راغلی دی.

همدارنګه د کندهار برخی چی هم د زاړه تاریخ په لړ لو سره د پېړیو، پېړیو په دوران کی څو ځلی د خپل عصر د تمدن و آخری پړاو ته رسېدلی دی او د منځنی ختیځ د لوی مرکز په حیث ئې خپل موقف ساتلی دی. په اوس وخت کی چی د هیواد د لرغونی تاریخ د زیات روښانه کولو او د پخوانی باارزښته آثارو د بیا ژوندی کولو په عرض پلټنی او تحقیقات روان دی، موږ پخپل وار د لرغونو آثارو او تاریخی آبداتو د ساتنی د لوی مدیریت څخه چی په هیواد کی د لرغونو آثارو د پیدا کیدلو او ساتنی د امکاناتو متضمن دی هیله کوو چی په کندهار کی د تحقیق او پلټنی وړ ځایونه چی تر اوسه بوری ئې لاس نه دی خوړلی د خپلو ژورو تحقیقاتو لمن پلنه کړی او همدا رنګه د کندهار د موزیم لرغونی آثار چی اوس د ځای د نشته والی له کبله په نامناسب ځای کی تیت او پراګنده دیاره و تلو په حال کی پراته دی او وځانګړی تعمیر ته اشد ضرورت لری د تعمـیر د احداث په برخه کی ئې د مربوطه مقاماتو خاصه توجه راګرځول غواړو.

لیکونکی: م، «عطائی»

د کندهار د هنری مکتبونو لنډه معرفی

که په ډېر جرئت دا ووایم چی کندهار هروخت د ښکلو هنرونو پالونکی هنرمندان درلوولی دی نوزړه می کاملا پوړه دی چی هیڅوك به ئې نفی ونه کړی.

البته پدې کی به نو زه هم تسلیم یم چی دا هنرمندان په کوچنی سویه په هنر کی د ښه شخصیت خاوندان شویدی، او نور ئې نو لکه د بېدیا ګلان د باغوان لاس ندی لیدلی او د خزان په څاپېړه رژېدلی دی.

دا مبالغه زه نه کوم چی دلته ګوا کی د هنر یوه طلایی دوره تېره سوېده خو په محلی سویه هغه څه چی پرون په هنری ساحه کی موجود وه تر ډېره ځایه غنیمت وه او نن باید په خواشینی ووایو چی د هنر په ساحه کی په مطلق فقر اخته یو او پرون حال مو تر نن ښه ؤ.

دا چی ولی دغه د بی هنری په بی کیفر اخته یو عوامل ئې البته معلوم دی خو ددې لپاره چی زه د کندهار موجود ځوانانو ته ددې وطن د هنر یو لنډ تصویر په الفاظو وکاږم.

د کندهار د هنری معرفی لپاره ئې بده نه بولم او ضمناً که زموږ اوسنی باذوقه ځوانان د هغو لار تعقیب کړی دا به یو ښه کار وی ځکه دغه هنر دی چی د ولسونو په کلتور کی ښی اغیزې کوی خو شرط ئې دادی چی هنر به له تخیل څخه واقعیتونو ته راباسی.

دادی د کندهار پر ښکلو هنرونو یو نظر اچوم:

اول: [خطاطی]

د خطاطی هنر په کندهار کی له پخوا څخه موجود ؤ چی ډېر قدیم ئې نه ږغېږم بلکی د نولسمی پېړۍ په اواخرو کی د میر عطا محمد شاه خطاطی په افغانستان کی مشهوره ده.

د دغه مکتب په پیروی کندهاری صوفی عبدالحمید [۱۳۶۵-۱۳۴۱ش] راپورته شو، چی ۷ ډوله خط ئې لیکی او حتی په دواړو لاسو ئې خط داسی لیکی چی تر ننه پوری په هیواد او د باندی کی د هغه شهرت ډېر پراخ دی.

ننني معروف خطاط ښاغلی عزیزالدین وکیلی چی په «هفت قلم» شهرت لری، هم د دغه مکتب پیرو دی او د ده آثار نن په هیواد کی معلوم او ښکاره دی په معاصرو خطاطانو کی موږ میرزا غلام علی چی په ولایت کی کار کوی او حاجی عبدالرحمن پوپلزی پېژنو.

دوهم: [رسامی]

د رسامۍ په هنر کی به خلګ ډېر وی خو زه تر مخنیو خلګو د ملا عبدالرحمن هنر د زیاتی ستاینی وړ بولم، ځکه رسامی دلته بیخی تازه رواج شوی ده او دا چی ملا عبدالرحمن غوندی متقی سړی هغه بالله نو د قدر حق لری.

ملا عبدالرحمن یو سپین ږیری سړی ؤ چی شطرنج ئې خورا خوښ ؤ او د ژوند تر اخیره په یوه حجره کی مجرد اوسېدی. د حجرې د دروازې پر سر ئې په غټو تورو لیکلی وه چی: لږ به خورم هوسا به اوسم.

دې سړی د کندهار ډېری

نور د پشتی په دریم مخ کی

د محمد ګل [نوری] ژباړه (۳)

کندهار

په دی وخت کی د موریا دولت مخ پر کمزوری تلی او د بلی خواهم انتی او کس راوګرزېدی نو ځکه د یوتید-

موس تراداری لاندی د باختر د دولت د پاره د ترقی او برمختګ زمینه برابره سوله څو عمر نه ؤ تیر شوی چی

یوتیدوس د باختر باچا د هندوکش پر جنوبی علاقه د کابل د باچا سوفاګزینوس تراداری لاندی وه حمله وکړه.

او هغه ئی ترګوتو کړله او بیرته د باختر په دولت پوری وتړله، تر یوتیدموس وروسته دده زوی د متریوس پاچا سو

او د هندیوه لویه برخه ئی فتح کړل او سیالکوټ ئی د باختری او د یونان د دولت د هندی متصرفاتو مرکز وټاکه.

بیا ابوکراتیدس د «متریوس په غیاب په هند کی» استفاده وکړه په باختر کی ئی د باچهی اعلان وکړ

تر ده وروسته دده زوی ملیو کلس سلطنت ته ورسیدی او د اسکائیانو د ظهور په اثر د باختر د دولت نفوذ د هندوکش

د شمال د هندوکش و جنوب ته نقل شو.

د (۱۵۰-۱۵۵ ق م) کال په حدودو کی اسکائیان د اموتر

رود تیر شول د باختر یونانی دولت ئی د پښو واچاوه د باختر یونانی باچا و کابل ته راغی او د هندکوه په طبیعی پناهګاهو کی آرام-و

اسکائیان د هرات خواته ولاړل څرنګه چی په لوېدیځ کی د پارت قوی دولت ؤ نو ځکه سیستان او کندهار ته راغلل، او د پخوانی او

قدیمی اسکائیانو سره میشت شول د دې (۵۸-۱۲۳ ق م) کلو په مابین کی دوهم مهرداد د اسکائیانو پارټی مغلوبه کړل، پر سیستان

او کندهار ئی استیلا وکړه مګر دوهم مهردا تر مرګ وروسته سیستان او کندهار آزاد شول اسکائیان د هند په فتوحاتو بخت

شول، او پهلواهانو په کندهار او سیستان کی سلطنت تاسیس کړ د پهلوانانو هغه خورا ستر باچا وونونیس یعنی د سترو باچهانو

باچا په لقب یادسو، د وونونیس ضرابخانه کندهار ؤ او دده د باچهی شروع عموماً په (۳۰ ق م) کال کی قیاسوی، تر وونونیس

وروسته سپالیرلیسس باچا سو، او غالباً په همدغه وخت کی پهلو-اهان د کابل سلطنت فتح کوی او

د کابل یونانی خانوادی منقرضه کوی.

ګندوفارنیس چی په ۱۹ میلادی کال د پهلوانانو د

سلطنت پر تخت کښېنوست د دی سلسلی د مهمو باچهانو څخه ؤ، او پر کابل ئی هم تسلط درلود، دغه نوموړی

پخواهم د دوهم آزس په زمانه کی د کندهار نائب الحکومه ؤ

هر کله چی ګندوفارینس پاچا شو (ګاس) د نوموړی

وراره په سیستان او کندهار کی نائب شو په دی مهال کی د کوشانی ستر دولت تاسیس کیږی او کجوله کدفیزس

یا اول کدفیزس په باختر کی د خپل دولت تر انتظام وروسته و کابل ته راغی هغه ئی ترګوتو کی، او بیا ئی د

کندهار پر خوالښکر کوچ کړ، ټوله ئی په خپل قلمرو کی راووست، کندهار د لویو کوشانیانو د دوری تر پایه

لکه د آریانا نور ولایات په امنیت او معنوی پرمختګ کی ژوند کاوه، په زیاته بیا

دستر کنشکا دوره د آریانا
د دولت د اعتلا نوې دوره ده
چې د هغه له فیضه دې ولایت
ته هم برخه رسیږی مګر د لویو

کوشانیانو تر سقوط وروسته
مخصوصاً د پنځم کنشکا
(هویشکا) تر مرګ وروسته
د کندهار ولایات د دوخوا

څخه تر تهدید لاندی شوه، یو
د شمال له خوا د هیاطله ؤ
بل د لویدیځ له خوا د ساسا-
نیا د ځوان دولت د ظهور له

خوا .
د (واسودوا) د ۲۲۰م کال
په شاؤ خوا کی تر مرګ
وروسته د کوشانیانو عظمت

او برم له منځه ولاړ، ویل
کیږی چې د ساسانی دوهم
بهرام د (۲۷۷-۲۹۴) میلادی
یا د مسیحی دریم قرن په

وروستیو وختو کی سیستان
فتح کی، او د کابل د باچا سره
په شخړه بوخت سو او د هلمند
او ارغند او سیمو ته راغلی

مګر دا نوشیروان په وخت
کی چې د هیاطله هجوم
زیات او د ساسانی دولت
اقتدار هم زیات وخپل معراج

ته رسیږی او په مقابل کی د
کیداری دولت او کابلشاهان
بیخی کمزوری او ضعیف
کیږی، نو رخج او زابلستان

هم لکه باختر او تخارستان د ساسا-
نی حوزی په کړۍ کی ورګډیږی
ځکه چې انوشیروان په (۵۶۳م)
کال د بیزانس له دولت سره پنځوس

کالنۍ سوله وکړه، او د موقع څخه
استفاده کړی د هیاطله سره وجنګ
ته تیاری کوی، او د خپل برمغنګ
د اطمینان د پاره د مخه د ترکانو

سره د دوی پر ضد یو او متحد کیږی
د دې جنګ کیفیت په لاس کی نه
شته، لیکن د هیاطله باچا له منځه
ورکیږی، په نتیجه کی د جیحون

رود سرحد ټاکل کیږی، او ساسانی
باچا باختر، تخارستان او رخج
لاس ته ورولی، اما د افغانستان
په ځینو ولایاتو کی د هغه عکس-

العمل لیدل کیږی، په دی معنی
چې کابل، زابل او بلوچستان او د
پېښور او سوات حوزه د محلی
آمرانو تر امر لاندی مستقل کیږی

چې هغه غوره ئې د کابل رتبیلان
دی چې کندهار هم د دوی په
لاس کی ؤ .
د اسلام د مقدس دین ظهور او

شاؤ خوا د دغه مقدس دین خپرېدل
په ختیځه مځکه کی د عربو د بریو
او فتوحاتو باعث وګرزېدی د عربو
مسلمانانو د ساسانی دولت تر

انقراض او د فارس تر فتح وروسته
وننی خراسان یا افغانستان ته هم
لښکری راولېږلی، سیستان د هجرت
په (۲۳) کال او کندهار ئی په

۴۴ هجری سنه کی فتح کړل
کندهار د مسلمانانو په مقا-
بل کی ډېر مقاومت وکی، مو-
سیو فریه چې د (۱۹) قرن د

سیاحانو د جملی څخه دی د
هر بیلو نظریه چې د اخوان-
الملک (۱) د جملو په اساس دی
داسی نقل کوی:

د اخوان الملک جملې دغه
دی:- په ۳۰۴ هجری کال کی
(۲۹۱۶) د مقتدر د خلاقت په
وخت کی په کندهار کی د یوه

برج د تهداب او بنسټ د کندلو
په حال کی یوه ژوره زېر-
زمینی پیدا سوله چې په هغه
کی د عربو یو زر سرونه ټوله

په یوه ځنځیر تړلی، او د (۷۰)
هجری کال (۶۸۹) تر دغه وخته
پوری ساتلی پاته وه ځکه چې
یو کاغذ چې دغه نیټه په هغه

کی لیکلی وه په یوه دوریښمو
په رشمه تړلی او دغه رشمه د
نه ویشتو کسو تر غوږ وختلی
او په هغه کاغذ کی د دوی

نومونه لیکلی وه (۱) .

---

(۱) ښایی چې اخوان-
الصفاوی-دا یوه سلسله مجلی
دی چې د هجرت په څلرم
قرن کی نشر کېدلې .

---

(۱) ص ۳۳۳ فریه سیاحتنامه

---

(۲) ص ۸۸ دریم جلد

ددې پورته بیان څخه څرګندیږی چی عربان د لمړی سر په راتګ کی پردی ښار باندی ئې په اسانی سره قبضه

نسوای کولای د تحفه الکرام خاوند عیناً کټ مټ دغه واقعه په لږ اختلاف سره چی ښایی همدغه اصلاً واقعه وی دا رنګه لیکی: (۲)

په درې سوه او څلورهسنه کی د کندهار د برجانو څخه یو برج ونړېدی او د دغه

نړیدلی برج له منځه څخه د سړوزر سرونه څرګند سوله دغه ټوله سرونه یو د بله سره تړلی وه او د نه ویشتو سرو په غوږو پوری په تار رقعی تړلی او د هر یوه نوم پر دغه رقعه لیکلی ؤ، او دغه لاندی نومونه د هغو اسامیانو هغه دی: سریح بن سنان - حسان بن یزید، خلیل بن موسی او پر دغه رقعو دغه تاریخ لیکلی ؤ سبعین هجری یعنی د هجرت او یایم کال.

د عربو د مسلمانانو د سختو یرغلو او حملو او ډېر کوښښو سره سره کندهار او زابلستان د عربو تر کلی نفوذ لاندی رانه غلی، یوازی رتبیلانو د کابل او کندهار باچهانو باج ورکاوه وبس.

(۲) سیاحتنامه ص ۸۸ د ریم جلد چی سهواً په ۴ مخ راغلی

دی وضع دغسی دوام درلود څو چی په (۲۵۲ هـ) (۸۶۵ م) کال صفاری یعقوب لیث په سیستان کی په اقتدار راغلی پنجوایی او تګین آباد ئی

تسخیر کړل او د کابل رتبیل شاه ئی وواژه او رخذ ئې ونیو، او هم دغه رنګه ئې غزنی او کابل هم لاس ته راوستل.

د صفاری دولت تر سقوط وروسته کندهار د سامانیانو تر نفوذ لاندی راغی، مګر د هجری په علوم قرن کی غزنوی لوی سلطان هغه

لاس ته راووست، کندهار د سلطان محمود غزنوی او د غزنوی د نورو ستر و سلطانانو په سایه کی یی په امنیت او آرامی ژوند کاوه، تر

څو چی د غزنی د دولت اقتدار مخ پر ځوړ او انحطاط شو، او د غور د کوهستانو له منځه څخه په زیاته بیا د هغه د مرکز د فیروز کوه څخه

سلطان حسین علاؤالدین جهانسوز سر راپورته کی او غزنی ئی د فنا په باد باد کی، او له هغه ځایه څخه د افغانستان د هغه وخت و هغه

لوی ښار بست ته راغی د هغه دوړی وایستی خراب ئی کی (۵۲۵) هجری (۱۱۵۰ م).

غوری دولت لکه چی همهغسی

په تیزی جهانګیره سو بیر ته د برمه ولوېدی، په دی وخت کی دارا-کوزیا په ولایت کی ودان او د تجارت ستر مرکز همدغه بست ؤ

د بست ړنګیدل د دی سبب شو چی کندهار اباد او ودان شی ځکه چی کندهار تر بست وروسته ښه رونق میندلی وو

نو ځکه دارا کوزیې پایتخت تر دغه وروسته و کندهار ته رانقل سو، د غوریانو د کمزوری په ترڅ کښی پر

کندهار باندی د سلجوقیانو لاس بر سو، د سلطان سنجر سلجوقی تر زمانی پوری د دوی تر نفوذ لاندی ؤ، دغه

نوموړی په پای کی د غز د ترکمانانو له خوا خلع سو تر څو چی سلطان علاؤالدین غوری هغه ته نجات ورکړ.

تر دغه وروسته کندهار د غوریانو په لاس کی پاته شو د هجری په (۵۹۷) (۱۲۱۰ م) کال سلطان محمد خوارزم-

شاه د هغه مالک شو اما په په ۶۰۹ هجری (۱۲۲۳ م) کال چنګیز خان د خوارزمشاه پر مملکت یرغل او حمله وکړه

او بیخی یی د هغه سټه او دوړی وایستی

وروسته تر دې چی چنګیزی سوځونکی تاثیرات له منځه

څخه ولاړه د کرتیانو سلسله روی کار شول او کرت دوم ملک شمس الدین د هجرت په ۶۷۶ کال کندهار محاصره

محاصره کی، کندهار د کرت
د پاچهانو په حوزه کی داغی
د کرت د سلابی د آخری پاچا
په زمانه کی یعنی ملك

غیاث الدین پیرعلی تیمور
د هرات فتح کی اود کرت آل
خاتمه وموندله او بیایی په
(۷۹۱ھ) (۱۳۸۹م) کال کندهار

ونیو او خپل لمسی پیر محمد
ته یی تسلیم کی .
د عیسوی پنځلسم قرن په
اواخرو کی کندهار د هرات

د سلطنت په جمله کی شامل ؤ
دغه لمړی وار ؤ چی د کندهار
نوم ضرابخانی په حیث د
سلطان حسین بایقرا په مسکو-

کاتو کی ثبت کندسو، د سلطان
حسین په وخت کی سردار
ارغون ذوالنون بیګ د
زمینداور او نورو منطقو

حکمرانی ئی لاس ته راوسته له
او کندهار خپل پلا زمینی
وګرزاوه، دده اقتدار په
کندهار کی زخته زیات شو

د سلطان حسین د دوری په
آخر کی مرزکه شیبانی موقع
غنیمت وګڼله پر بلخ ئی یرغل
وروړ، په کندهار کی د

ذوالنون بیګ زوی چی
شاه بیګ ارغون نومیدی
حکمرانی کوله، بدغه ترخ
کی چی شیبانی هرات د

سلطان حسین بایقرا د اولادی ثخه
لاسته راوست او په زدو خورد او
جګړه اخته ؤ، بابر چی په کابل
کی ئی اقتدار درلود پر کندهار

ئی یرغل راوړ او شاه بیګ ئی د
د کندهار ثخه وشاړه او کندهار
ئی واخیست (۹۱۳ھ)، (۱۵۰۷م) اما
شاه بیګ د شیبانی تر راتګ وروسته

ژر بیا رونیو او خو کاله ئی په مستقل
ډول ژوند کاوه، په دې وخت کی
د افغانستان عمومی اوضاع ډېر
بحرانی ثر ګندېدل او د مهمو

پیښو سر مخامخ ؤ، ځکه چی د یوی
خوا د هرات ستر دولت مخ پر ځوړ
او زوال رهی ؤ، او شیبانیان راغله
بلخ، هرات او کندهار ئی لاس ته

راؤست د بلی خوا صفویان مخ
پر عروج او ترقی وه دی سیمو او
اطرافو ته ئی ستر ګی نیولی او په
کابل کی د بابر شاه لوی اقتدار

په لاس کی ؤ، د جهانګیری په
چرت کی ؤ شاه بیګ ارغون موقع
غنیمت وګڼله په کندهار کی ئی
په مستقل ډول او آرامی سره ژوند

کاوه تر څو چی په (۹۲۸ھ) (۱۵۲۲م)
کال بیا کندهار ترګو تو کی، په
دې مهال بابری حکمت او دولت
او دولت پـه هندوستان کی هـم

ټینګ ؤ، مګر د کندهار حال ډېر
خراب، دغه دواړه نوی دولتونه
د مځکود پر آخی او نیولو په سودا
کی وه، پر دی سیمه سره په جګړه

او شخړو کی وه او کندهار
ددې دوو دولتو د شخړی
ډګر وګرزېدی، ځکه صفو-
یانو کندهار ته لښکر راوا-

ستـلاوه، او (۹۴۱ھ)، (۱۵۳۵م)
کال سام میرزا چی د صفوی
شاهزادګانو یو یاغی شهزا-
ده ؤ هغه ئی لاس ته راوست

او خپل روابط ئی د فارس د
مرکز سره قطع کړل، لیکن
طهماسب شاه هغه بیرته ونیو
او له خپلی خوا ئی یو حکمران

چی بوداك خان قاجار نومیدی
مقرر کی، چی دغه نوموړی
یو کال وروسته د بابر شاه د
زوی شاهزاده کامران له خوا

بر طرف شو، ځکه چی کامران
د خپل ورور همایون ترماتی
وروسته د شیر شاه سوری او د
هند د مشهور فاتح خواجه
کلان بیګ مغل د لاسه کابل

ته راغی او لـه هغـه ځایـه
کندهار ته راستون شو کند-
هار ئی د صفویانو د لاسه څخه
خلاص کی په هغه مهال کی

چی د هند مغلی پاچا همایون
د هند څخه د کندهار خوا ته
راوشړل شو کندهار د کامران

میرزا پلاس کی ؤ همایون
د صفوی پاچا څخه د کومك
د غوښتلو په ترڅ کی وعده وکړه

چی کندهار به صفویانو ته تارنوك کوی، مګر په خپله وعده ئی وفا ونه کړه او صفویانو د هغه د په لاس راوړلو چرت وواهه مګر ناکامه شول د هند د مغلی اکبر پاچا په وخت کی طهماسب

شاه کندهار لاس ته راوړاو اکبر هغه تر ۱۰۰۳ هـ (۱۵۹۴م) کال پوری نسوای تر ګوتو کولای تر دې وروسته تر (۱۰۳هـ) (۱۶۲۱م) چی د جهان ګیر عصر دی کندهار د هندوستان د مغلو تر قلمرو لاندی ؤ لیکن همداغه کال فارسیانو بیرته کندهار ونیو

او شاهجهان بیرته په (۱۰۴۷هـ) یعنی ۱۶۳۷م کال کندهار ونیو او په پای کی په آخره پلاشاه عباس صفوی په (۱۰۵۸هـ) (۱۶۴۸م) کال پر کندهار

داسی قبضه وکړه چی د هند مغلو بیا نه سوای خلاصولای لکه یو وار اورنګ زیب مغلی امپراطور د پنځو زرو لښکرو پر هغه حمله وکړه ناکامه سو او په ۱۶۵۴م کال د اورنګ زیب

کوښښ بیا د ناکامی سره مخامخ شو څو تر ۱۷۰۹ کال پوری د صفویانو په لاس کی پاته سو څو چی د غلجیو سترغټ سردار حاجی میرویس خان هوتك د کندهار بلکه د ټوله افغانستان د خلاصون په تلاښ کی سو او کامیاب هم سو او زوی ئی

محمود فارس دولت د افغانستان ضمیمه کړ او صفوی سلسلې ته ئی با الکل خاتمه ورکړل د فارس دولت د نادرشاه د دولت تر ظهور پوری د افغانی دولت ضمیمه ؤ.

په (۱۱۴۹هـ)، (۱۷۳۷م) نادر افشار د اصفهان څخه پر کندهار لښکر راورماوه او کندهار ئی محاصره کړ، په پای کی تر دؤ کالو محاصری

وروسته ئی ونیو، په دی ترڅ کی ئی د کندهار د باندی په شپږ سرخ کی یوه عسکری کلا جوړه کړه چی نوم ئی نادرآباد پر کښېښود له همدې امله ځینی په خطا او اشتباه کی لوېدلی دی چی

دغه نوموړی د کندهار بانی بولی.

نادر افشار په ۱۷۴۹ کال کی ووژل شو، او د درانولوی او ستر پاچا اعلیحضرت احمدشاه بابا ته د سلطنت وارور ورسید!!!

اعلیحضرت احمدشاه بابا هغه شلېدلی تناو بیرته سره پیوند کی او نوی افغانی او پښینی حکومت ئی منځ ته راویوست، همدغه نوموړی

غازی اعلیحضرت احمدشاه بابا د خپل حکومت تر محکمه کولو وروسته د ښار مرکز تبدیل کړ او پر دغه ځای چی همدا اوس د کندهار ښار دی خپل مرکز وګرزاوه.

د کندهار د اوسنی ښار د بنسټ او ودانی بیان د سراج التواریخ څخه د تاریخ سلطانی او نورو په استناد له لږ اختصار سره نقل کوم، د سراج التواریخ مؤلف د ۱۱۷۴ کال د احمدشاه بابا

د محاربو او بیرته راګرزیدو ډیلی ته او مغلی شاه علم د تاج بخشی تر بیان وروسته داسی لیکی:

د اجلال تر نزول وروسته چی اعلیحضرت احمدشاه د دې کار په فکر کی ؤ، چی د نادرآباد هوا په دې سبب چی درګو او چمن ته نژدې دی

صحت ته تاوان لری باید خراب شی، بل ښه ځای چی ښه آب ؤ هوا ئی وی پخپل نامه یو ښار ودان کی، نو ځکه لمړی ئی یو پسورو ره او ژوره واله دارغند او درود په لوېدیځ ساحل کی وکښله

د دښب خواته ئی راکش کړه چی ښار ودان کړی څرنګه الکوزی د دغو مځکو څښتنان وه نټه ئی وکړه، نو ځکه د خپل قصد څخه وګرزېدی فعلاً ئی دا کار پرېښود، څو عمر باد ئی باعفته محترمه

مور مړه سوله او هلته ئی ښخه کړه، نو دغه زیارت د ده د مور د روضې په نامه وبلل شو، بیا ئی نیت وکی چی د مرت کلا د لوېدیځی خواته نوی ښار واچوی نو بارګز ومنع کی، څرنګه چی اعلیحضرت

احمدشاه بابا حلیم پاچاؤ، نو ځکه ئې دغو دواړو ټبرو ته هیڅ ونه ویل: په پای کی فوفلزو مړانه وکړه خپلی مځکی ئې ورکړی چی ښار پرودان کی، نو ځکه نوموړی باچا ددوی مځکی قبولی کړی په دغه ځای کی چی همدا اوس اوسنی ښار موجود دی دولس غولبی مځکه چی قریباً ۶۰۰ جریبه کیږی د ښار ترنخشي لاندی راوستله د ښار خښته او بنسټ ئې کښېښود او په ۱۱۷۴ کال ئې په کار پیل وکی د درانود ټولو تکمو د همت او کمک دوعدو سره سم ئې داسی امر وکی چی سم دورور ګلوی د ویش په قرار هر تکم او ټبر خپله محله او کوڅه پخپل نامه جوړه کی عیناً د ښار په منځ کی د څلورولارو د تقاطع نقطه وه یوه لویه ګنبده جوړه کړه ترکلا او برجو او د خندق ترکیندلو وروسته ئې ټوله علماء، مشایخ، سیدان، پیران فقیران، یتیمان، خواران، بی وزلی ئې په عام ډول مېلمانه کړل، د ډوډۍ ترخوړلو او انعامو تروېشلو وروسته ئې د ښار دودانۍ د پای ته رسیدو دعاوی ئې وکړلی او د احمدشاه ښار ئې نوم پر کښېښود.

اما عوامو په نامه د کندهار وباله د فرق د پاره ئې احمدشاهی کندهار وباله د کندهار ښار چی د اعلیحضرت احمدشاه پایتخت ؤ د ده مرحوم تر وفات وروسته د ولایت د مرکز په نامه شو ځکه چی د احمدشاه بابا زوی اعلیحضرت تیمورشاه د خپل دولت مرکز کابل وټاکه پایتخت ئې ورنقل کړ، اما په اوس زمانه کی چی د مملکت د آبادیو او ودانیو مخ پر ترقی او پراخی دی په دی نیت چی د حفظ الصحی مراعات وشی د احمدشاهی ښار د باندی د ښار لمن اوږده شوی ده، نو نن ورځ د کندهار ښار د افغانستان تر ټولو ښار و ښایسته او پراخ اوستر ښار دی.

«مأخذ»

تاریخ سلطانی
سراج التواریخ
حدود العالـه

بلاذری
تاریخ سیستان
د ایران تاریخی جغرافیه
د آریانا د ښار و تاریخی او جغرافیایی تذکره (صدقی)

اسکندر او آریانا (صدقی)
د افغانستان تاریخ (نلسن)
آریانا انتیکوا (ولسن)

نګاهی بتاریخ قدیم افغانستان (یعقوب حسن خان)
زین الاخبار ګردیز

سیاحتنامه فریه (ترجمه انګلیسی)
اسائیکلو پیډیای بریتانیکا
» » » اسلام

ارامی خلافت شرقی (لوسترنج)
رهنمای افغانستان (محمدعلی)
تحفه الکرام

ځینی د کابل سالنامی
د حاجی محمد ګل «نوری»
ترجمه د کابل کالنی د (۱۳۲۱) کال

بناغلی « نومیالی »

تطبیقی تاریخ

په هر تعریف چی (تاریخ) راواخستل شی خودا خبره په کښی ځائیږی چی ودو اقسامو ته ئی سړی وویشی .

یو (بیانـی تاریخ) بل- (تطبیقی تاریخ) .

بیانی تاریخ البته هغه چی ټول واقعات ئی یوازی د بیان په احاطه کی ژوند وی او حوادث ئی صرف د لیکلو په غېږ کی خوندی وی .

ترکمی اندازې چی د حقیقت اوخطا پوښتنه پـه (بیانی تاریخ) اړه لری نو په جواب کی ئی ویل کېدای شی

چی لېکنه خو لمړی دواقعاتو اوحوادثو نه پوره بیا نه څخه تر ډېره حده عاجزه ده .

بله داچی هـر تاریخ لیکونکی پخپلو حیاتی او اجتماعی مرحلو کی بېل بېل احساسات اوډېر لږ لیکونکی به وی چی په تاریخی مسائلو

کی واقعات په حقیقی شکل معرفی کړای شی ځکه ارو مرو به یا له یوې تاریخی واقعی څخه نفرت لری یا به له یوې

تاریخی حادثی سره محبت لری اوپه دواړو صورتو کی

ئی خپل شخصی احساسات په هره مرحله کی چی وی په ارادی یا غیر ارادی ډول ځنی بکښو داخلیږی .

مهمه خو لاداده چی بیانی تاریخونه اکثره دټولو مقتدرو طبقاتو تر نفوذ لاندی ددوی د سیاسی خوښی اوله دی جمه څخه

نور کوټه عوامل هم سته چی د داسی ټولو دلائلو په رڼا کی دا پوښتنه سړی ته ځان ډېر غټوی چی آیا بیانی تاریخ به تر کمی اندازی حقیقت لری .

په دې سلسله کی داخبره د اهمیت وړ ده چی د بیانی تاریخ حقیقت او خطـا نسبت حـادثـی واقعیت په خپله د تاریخ لوستو- نکی له باور سره ډېره اړه لری

ځکه څوك خوش باوره وی او غواړی چی تر ده دمخه تاریخی جریانات صرف د کتابو له تورو

څخه تحصیل کړی نو ښائی چی په تاریخ کی خپل خوش مضامین ثابت حقایق وګڼی او د مرګ تر ساعته په خوشحالۍ واوسی خو که بیا څوك داسی نه وی نو ممکنه ده چی فیصله به ئی همداسی نه وی .

پدې اساس نو بیانی تاریخ یو نکل دی او د رشتیاؤ د رواغ حکم هم د یو نکل په اندازه قبلولای شی .

تطبیقی تاریخ هغه دی چی هرچا ته له موجـوده جریانه څخه معلومیږی هر ولس چی په هر ملك کی وکتل

شی نو دهغه د ژوند له ثقافتی اجتماعی ، ادبی او فلسفی جریانا تو څخه چی هلته دستی په دستی شروع وی دا نتیجه

راوتلای شی چی د دې ولس د خلکو تر مخه څنګه خلك له څنګه واقعاتو سره تېر سوی دی ځکه د هرچا موجوده وضعیت چی ولیدل شی نو خود

بخود د هغود تاریخ حقیقی وضعیت معرفی کولای سی او په دی سړی پوهوی چی

داد پېړیو ، پېړیو جریان دی چی اوس پدغه موجوده شکل د دغو خلکو په ژوند کی تطبیق سوی دی .

په تطبیقی تاریخ کی هیڅ د خطا ځای او نه ئی څوك دغلطی او صحت په مینځ کی مشتبه کیږی ځکه ، د ژوند

جاری جریان له خپله کوره څخه نیولې بیا تر بهره ځـایه پوری چی سړی وغواړی په مثبت ډول ئی مطالعه کولای

شی او دغه مطالعه نود تاریخ تیر جریان اوتللی واقعات

په ښه ترتیب سره روښانه کولای سی ولی چی هرجاری ژوند د خپل تاریخ واقعی نتیجه بلل کیږی او د اجتماعیاتو

په باب کی دا ډیره پخه خبره ویل سوېده چی نن د پرون نتیجه ده او د سبا مقدمه ګڼل کیږی .

که د تللو حوادثو په باب کی صرف د بیانی تاریخ پر بیانو اکتفا وکړونو ویلای شو چی په ساده نکلو مو اکتفا

کړېده او په داسی نکلو کی خو نود نړۍ هر ولس تر بل ځان کم نه بولی او که چیری د کمبود احساس وکړی نو

دستی په دستی ئی د پنډو کتابو په لیکلو او د کوچنیو

نکلو په غزولو سره تلافی کوی او په دې ترتیب نود

دنیا یو ډېر پاته ملت تر یو ډېر مترقی ؤ لس خپل ځان لوړ ایسولای سی .

لیکن که د تاریخ ملاحظه له حاضرو جریاناتو څخه پسی ورواخلو نو دنیا او د دنیا حوادث لکه څنګه چی

راغلی دی په خپلو ذاتی اشکالو کی تحلیلولای شو .

پدغه منظور به زموږ یو

پوه انډیوال اکثره ویله :

زما تر تاریخ حاضر جریان ډېر خوښ دی ځکه په حاضرو واقعاتو کی ، چی ارومرو د خپل تاریخ واقعی نتایج دی ، عالم ؤ ، جاهل

قوی ؤ ، ضعیف ، مدنی ؤ بدوی ناقص ؤ کامل ، او نر ؤ ښځه ډېر ښه سره معلوم دی .

ژباړونکی «ح»

دلویانو ویناوی

د کړو نتیجه :

نه پورته په هوا کی ، نه د دو باب په تل کی ، نه د غرو په نس کی او نه د عالم د اجزاؤ څخه په په یوه جز کی داسی ځای سته چی انسان دی

په هغه ځای کی د خپلو کړوله نتیجو څخه خپل ګرېوان خلاص کړی . (بوه ا)

ښه کړه :

ستاسی د فضیلتو هره ثمره لکه ستوری داسی دی چی ور کیږی خو رڼا ئی اوس لا هم په خپل نجومی لار کی حرکت کوی او لار وهی

دغه ډول ستاسی د ښو کړو رڼا خپله لار وهی حالدا چی ستاسی کړه او عمل ډېر وخت کیږی چی سر ته رسیدلی دی نو هر څومره چی

ستاسی ښه کړه هېر او ورک شی رڼا به ئی تل تر له ځلیدونکی وی . (نېچه)

خطرناکی کلمی :

بیخی بدی او خوا خطرناکی کلمی دا دی (ټول دغه ډول دی .)

(تولستوی)

ښه خوی :

هغه څوک چی ښه خوی لری هیڅکله یوازی نه پاته کیږی ځکه تل ځان ته دوستان او ملګری پیدا کوی .

(کنفوسیوس)

اخلاق :

اخلاق د علم ، مال ، مقام ښکلا او نورو مزایاؤ ځای نیولای شی خو هیڅ نعمت د اخلاقو پر ځای نشی درېدلای . (....)

ضعیف موجود :

که انسان خپل ځان تر هغه مقام چی په ده کی دی لوړ نه کړای شی یو ضعیف موجود دی . (انبل)

ښه اخلاق :

اخلاق د نړۍ د لویو محرکه قواؤ څخه دی او د خپلو تظاهراتو په کمال کی انسانی طبیعت په خپل ډېر لوړ او عالی شکل مجسم کوی .

(اسمایلز)

ښاغلی محمد اسمعیل «زاهل»

آیا ژوندلمړی ځل چیری او څنګه پیدا شو؟؟؟

د اسلام مقدس دین تقریباً ۱۳۴۶ کاله پخوا تر نن ورځی پر مځکه باندی د لومړی ځل د پاره د ژوند د پیدایښت موضوع ته اشاره کړی او پخپل معظم او معجز کتاب (قرآن مجید) کی ئی دیوه کامل فارمول په ډول داسی فرمایلی دی:

یعنی څښتن تعالی وټولو شیانو ته له اوبو څخه ژوندور کړی دی یا په بل عبارت ګویا مبداء او اساس د ټولو شیانو د ژوند اوبه دی.

که دغه قرآنی فارمول په ښه غور او دقت د نورو علماؤ د نظریاتو او عقائدو او علمی دلایلو سره د مطلب او غایې له مخی وکتل شی دا به څرګنده شی چی ژوند د لومړی ځل په هکله د اسلام پاکه او سپېڅلی عقیده او د ټولو علماؤ دلائل او نظریی ډېر نژدی اړیکی سره لری او په عمومی ډول یوه غایه او مقصد ځنی څرګندیږی.

د مخه تر دې چی د دې موضوع د اثبات د پاره د ځینو علماؤ د عقیدو او نظریاتو په ښکاره کولو پیل وکړم بده به نه وی چی د تورات د لومړی باب لنډ مطلب چی د (آفرینش انسان) په کتاب کی لیکل شوی او پدې موضوع پوری ښه پوره اړه لری وګرانو لوستونکو ته تقدیم کړم او وروسته نو بیا څه ناڅه د هغو علماؤ او پوهانو عقاید او نظریې ولیکم کوم چی په دې لارکی ئی ډېر زحمتونه ګالی دی او خپل راتلونکی نسل ته ئې خپل د توان او قدرت سره سم معنوی خدمتونه کړی دی.

د تورات د لومړی باب لنډ مطلب په لاندی ډول دی:

«څښتن تعالی مځکه او آسمانونه پیدا کړه څنګه چی د دریابونه او سیندونه د توری او تودی او ریځی په شکل په هوا کی ولاړوه او د لمر روښانی او پلوشی ئی تر هغو نشوای راتېرېدلای او د مځکی ومخ ته نه را رسیدلی نو ځکه پر مځکه تپه تیاره وه وروسته تر هغه د څښتن تعالی په مخصوصه اراده او غوښتنه دغه توره او توده او ریځ په ټوټو، ټوټو تقسیم او په عین زمان کی ئې په سړېدو هم پیل وکړ او د اوبو په شکل و مځکی ته راکښته او سیندونه ځنی جوړ شوه یعنی «مځکه، اوبه، هوا» درې واړه پیدا شول.

دغه رنګه څښتن تعالی وغوښتل چی نباتات پیدا سی میوه او تخم وکړی څو د هغو حشراتو خزندګانو او حیواناتو (څارویو) غذا او د ژوند سبب شی کوم چی د ده په اراده او غوښتنه په راتلونکی وخت کی د مځکی پر مخ پیدا کیږی.

هغه ؤ چی لومړی حشرات «کرمها» بیا خزندګان او وروسته مرغان او نور حیوانات

داوبوله منځه دمځکی مخ ته راووا ته او په ژوند ئی پیل وکړ تر دغو ټولو وروسته بیا څښتن تعالی وغوښتل چی انسان د خپل غوښتلو او مرزا سره سم په خورا ښه توګه پیدا او دمځکی دمخ واکدار «حاکم» ئی مقرر کړی .

د تورات دلومړی باب د دغه بیان څخه هم ښه ترا معلومیږی چی دلومړنی ژوند سبب او واسطه او به دی .

داهم باید وویل شی چی د تورات دغه پورتنی مطلب د جیالوجی دعلم سره ډېر نژدې والی لری او حتی د نوموړی علم د تصدیق او تائید وسیله او شاهد بلل کېدلای شی .

اوس نو د نورو علماؤ په عقایدو او نظریاتو باندی په لنډه توګه پیل کوم :

۱ـ هاکل ـ دی برسېره پردې چی د «ډاروین» د نظریاتو یو پیرؤ د «مولبر» افکار ئی هم تعبیب او تر څیړنی لاندی ونیول او په دې لار کی ئی ډېر ربړونه او زحمتونه وکښل څو په (۱۸۶۶ع) کال کی ئی یو لوی کتاب د (جنین شناسی عمومی) پنامه نشر کړه، ده پخپل دې کتاب کی د ژوند مرتبی د ماهیانو (سیلورین) له دوری څخه شروع او تر ذوحیاتینو، کیسه لرونکو او تی لرونکو حیواناتو او بیزوګانو پوری ئی راورساوه او وروسته ئی بیا د انسانانو د اوسنی نسل پر دوره ختم کړی دی .

نوموړی عالم لومړی په دی عقیده ؤ او ویل به ئی چی امکان لری (حرارت «اکس» او تشعشع «وای» او ځینی مواد لکه کربونیک او د آزوت د ګازاتو) سره دیو ځای کېدلو په واسطه یو څاڅکی «پروتو ـ پلازم» د کوم سیند په ژورو ځایو کی پیدا او د ژوند د پیدایښت سبب شوی دی .

هغه ؤ چی ده خپل د دې عقیدې د پیروی له کبله وروسته تر ډېر زیار او زحمت د اوقیانوس په یوه ژوره حصه کی یوه «شقافه عصاره» کشف او د هغی نوم ئی «باتیبوس هاکلی» کښېښود او په ډېره خوښی او لوړه غاړه ئی خپله دا نظریه او عقیده څرګنده کړه چی «څرنګه دغه کشف شوې ماده یعنی باتیبیوس هاکلی دیوه سلول په شکل واوښته چی په حقیقت کی دغه سلول هم یو حد فاصل دی په مابین کی د نباتی او حیوانی ژوند .

نوموړی عالم داهم علاوه کړه چی دغه یو سلولی حیوان دیوه مساعد محیط په واسطه سره یو ځای شوی او د خپلی ټولنی او اتحاد په نتیجه کی د نباتی او حیوانی ژوند سبب شوی دی .

مګر له بده مرغه وروسته تر څه مدې ده خپله دا عقیده پخپله تردید کړه او وئی ویل چی د باتیبیوس ماده د لمړی ژوند وسیله نده بلکه ژوند لومړی ځل دیوې ډېری عادی مادې څخه پیدا سوی دی چی «سولفات دوشو» نومیږی .

۲ـ ادموند پریه ـ دی عقیده لری او وائی : چی ژوند لمړی ځل د سیندو په ژورو ځایو کی ندی پیدا سوی بلکی د لویو سیندو پر څنډو ښکاره شوی دی څرنګه چی اوس هم نسبت وهر ځای ته د سیندو پر څنډو ژوند ډېر او خورا ښه دی .

وروسته تر ادموند پریه د څه مدې د پاره په دې باره کی چا کومه قطعی نظریه او ټینګه عقیده نه ښکاره کوله او پوهان فقط په دغه فکر او مفکوره کی ډوب شوی وه چی آیا څرنګه د (کاربن هیدروژن، آزوت او اکسیجن) په سوو او زرو اټومونه سره یو ځای شوی او د ژوندی مادې یو ملیکول ئی جوړ کړی دی !

څو هغه ؤ چی په ۱۹۴۲ع کال کی (الکساندر وویله

او-امیل دګن) دنو موړو موادو یوځای کیدل رشتیا وبلل او وئی ویل چی «دکاربن-هیدروجن-آزوت-اکسیژن اوځینو نورو موادؤ په زرو اټومونه دلمر د ماورای بنفش دپلوشی تر تاثیر او اغیزی لاندی په تصادفی ډول سره یوځای شوې او یوژوندی مالکیول جوړ شوی دی.

۲-مونت لیو اوریختر چی دفرانسی او المان پیاوړی پوهان وه دالکساندر او امیل دګن داعقیده دروغ وبلله او وئی ویل چی مثبت علم هیڅکله خود به خود پیدایښت او تصادفی ژوندنشی قبلولای بلکه امکان لری چی دمځکی مخ دې دغوښود او بو شکل ځانته نیولی وی «یعنی په ټولو معناؤ دژوند کولو دپاره یو مساعد محیط شوې وې» او ځینو مکروبونو دی په دغه مساعد محیط کښی عمل او فعالیت کړی وې چی دهغو له تاثیر او اغیزی څخه دی، ژوند پیدا شوی دی.

خو سره ددغه هم دوی پخپله دغه عقیده او نظریه کښی شك درلود او کله کله به ئی دا پوښتنه له ځانو څخه کوله چی: «ښه که دمځکی مخ دژوند دکښت ساحه وبولو نو دژوند تخم له کومه پیدا او څرنګه دلته راغلی دی؟».

څو هغه ؤ چه وروسته تر دوی ځینی نورو پوهانو چی (آرینوس او بکرل) نومیدل دمونت لیو اوریختر نظریه ئی رښتنی وبلل او دژوند دتخم دپاره ئی خپله عقیده داسی ښکاره کړه: «دژوند تخم عبارت له هغو باکتریانو څخه دی چی دنورو کروڅخه راوتلی څه موده په فضا کښی سرګردانه اولالهانده ګرځیدل تر څو چی دغه مساعد محیط ته رارسیدلی او دژوند د پیدایښت سبب شوی دی».

هو! دنو موړو ددی عقیدی او نظر ئی دتردید او بطان دپاره هم ډیر دلایل شته چی یو له هغو څخه دادی چی باید وویل شی دغه وړوکی او ذره بینی حیوانات چی دڅه مودی دپاره په فضا کی سرګردانه اولالهانده ګرځیدل څرنګه کیدلای شی چی دلمر دتودو او سوزنکو وړانګو څخه دی ځانونه وساتی مړه او تلف دی نه سی..

دپورته بحث او څیړنی څخه دا ښه ترا ښکاره کیږی چی هم د ژوند دلومړې ځل د پیدایښت په هکله دعلماؤ او پوهانو ډول ډول عقیدی او نظریی چی کله کله دیوه او بل دقول او وینا تصدیق او تائید کوی او کله بیا دیوه او بل وینا تردید او غلطوی خو سره دهغه هم په عمومی ډول دا نتیجه ترې اخستل کیدلای شی چی ژوند لومړې ځل دمځکی په کره کښی خصوصاً په اوبو کی پیدا سوی دی پروچه او یا دکوم سپند پرغاړه نه دی پیدا سوی.

ځکه دا وبو محیط بر سیره پردی چی دابتدائی ماهیانو (سیلورین) دژوند دپاره مناسب او مساعد محیط ثابت شوی دی د هغه یوڅاڅکی پروتو پلازم دپاره هم یو ډیر ښه او دژوند وړ محیط ګڼل شوی دی؛ کوم چی ډیرو پوهانو دلومړی ژوند اصلی مبدا او منشا ویلی دی.

له هری خوا:

داسی کمره چی

په یوه ثانیه کی ۵۰۰ ملیونه عکسونه اخلی

شروی ماهرانو پدی وختو کښی دعکس اخستلو یوه داسی حساسه او فعاله کمره جوړه کړیده چی په هرې یوی ثانیی کی ۵۰۰ ملیونه عکسونه اخلی.

دغه کمره په خپل کار کی دومره چټکه او سریعه ده چی قطعاً د کمری په دوربین کی ئی فعالیت نسی لیدل کیدلای دغه کمره دری پښی لری او په دننه برخه کی یی فلم نه ایښول کیږی او فلم یی دیوه نوار په شکل ددوربین په دواړو خوا وکښی تعبیه شویدی او مخصوصی محفظی لرې.

ددغه فلم ګړندی والی دنړی له خوراګږندیو جت الوتکو څخه لږ تر لږه زرکرته زیات دی ددغه راز کمرو شمیر تر اوسه پوری ډیر لږ دی ځکه چی لدغه راز

(نور په ۱۸ مخ کی)



ښاغلي (پژواك)

غـــزل

هم هغسې چې خندا کښې هـنر نـشـتـه
په ژړا کښې هم له سـره اثـر نـشـتـه
که دی غاړه لکه غر ونیـسـی هـسـکـه
پـه نیـلی تیغ دافق کښې جوهر نشته
تل دی خلك په خاورین ستور وغولیدلی
داسمان په شین درباب کښې ګوهر نسته
دژوندون نه به کم خوب پریشان نه وی
ددنیا نه نـارا حـته بسـتـر نـشـتـه
داچې خاوری شوم دمینې لار کښې ښه دی
خو دچا ځما په خاوری ګذر نشته
داخبر به څـوك ځما نه یارته یو سی
چې بیلتون کښې می له ځانه خبر نشته

زه «پژواك یم» په پیچو مو کښې لوی شوی
داچې چپ یم لته غر او قمر نشته

ښاغلی (حبیبی)

دغرو بازیی، ولی پروتیی په ځالی کی

یا د چازما ولور ته نظر نشته
یا می اوس په غلبلو کی اثر نشته
دبی وزلو کور ته نه درومی پیاوړی
پر لوېدلو دغښتلو ګذر نشته
پر غښتلو هره ورځ اختر، برات وی
دبی وزلو ښادی نشته، اختر نشته
ځان غښتلی که، که ژوندون او حیات غواړی
بیله زوره ژوندون نسته، ظفر نسته
پښتون کامه! سوړ جهان له تا نه تود ؤ
اوس دې ولی په نغری کی شرر نشته ؟
غوږدی کښیږده ماته یو ګړی ځلمیه !
که پښتون وی نو وتا ته خطر نشته
ته ژوندی یی په پښتو او پښتنوا له
بی له دی دی له ژوندونه ثمر نشته
دغرو بازیی، ولی پروتیی په ځالی کی
ستا پرواز او تپش نشته ، وزر نشته
دهمت وزر که خلاص کی ، فضا ستاده
یووار والوزه ، په دی دی باور نشته
ستا پښتون نیکه د توری په زور خان ؤ
اوس رڼا د توری ستا پر ټبر نشته
ستا په نور روښان مشرق او هم مغرب ؤ
اوس دی ښغ پر باختر نشته، خاور نشته
دپر دنیا ستا دهمت قیصی خپری دی
منځنی ایشیا کی ته یې بل بر نشته
ذبری ګوهر که غواړی راسه واوروه
له «خوشحاله» چی وینا کی ضرر نشته

«که غوټی پسی وهی په لاس به درسی»
«چاوی دا چی په دریاب کی ګوهر نشته»

بناغلی (الفت)

فرهادی عزم له عشقه پیدا کیږی

عاشقانو سره ویره د سر نشته
هسې نه چې د عشق لارکی خطر نشته
توری زلفې دی ماران او منګری دی
پاړو ګرسره یې دم او منتر نشته
بې پروا ګړی ژوندی زړونه له کوګله
عقیده دی په قیامت او محشر نشته
تك سپین مخ دی ده کعبه د عاشقانو
دلته فرق د مسلمان او کافر نشته
زړه مې تانه قربان کړی، سر و مال هم
هیڅ پروا مې په خپل عقل و هنر نشته
په ژړا باندې ستا زړه کله نرمیږی
د مظلوم آه و فریاد کښې اثر نشته
عشق او مینې د بورامینه ګلزار کړه
هیڅ کیمیا له عشق او مینې بهتر نشته
زړه مې ډك له محبته لوې دریاب دی
خو طوفان کښې یې څه زیار او ضرر نشته
جاز به د عشق ده روح د کاینناتو
بې له عشقه هیڅ غرض او جوهر نشته
فرهادی عزم له عشقه پیدا کیږی
د عاشق په مخ کی هیڅکله غر نشته
بې له مینې څوك مطلب ته نه رسیږی
سعادت ته بله لار د بشر نشته
کارغان نه رسی مقام ته د بلبلو
ورسره د عشق او مینې وزر نشته
زړه په مینه محبت باندی ژوند وی
په مړ زړه کښې د عشق نور او شرر نشته
عشق او مینه محبت هسې مضمون دی
چې ئې بیله ژوندی زړه بل دفتر نشته

ښاغلی « خادم »

خوشی ،خوشی

بی تهدابه چی تعمیر کا، کړی کارونه خوشی خوشی
دورانی دپاره کاږی زحمتونه خـوشی خوشی
په خو ورځی ژوندانه کښی هوښیار زیرمه د محشر کا
غافل تیر په هغه دغه ، کړی عمرونه خوشی خوشی
بلبل جوړه کړه جا له ښه مامونه د ګل خواکی
تیر په سم او کوږ کړه چټی، موسمونه خوشی خوشی
لاله وغړوی سترګی له عبر ته په زړه د اغ شی
رړی سترګی سوسن ګوری، ساعتونه خوشی خوشی
جوړ شی لعل له هغه اوښکوچی تویږی وکوګل ته
چپ شه ای آبشاره مکړه، داشورونه خوشی خوشی
چی ژوندون لری مړ کیږی ښه هغه چی باشرف مری
که سپی زرکاله وپایی وی کا لونه خوشی خوشی
لوړ همت په دام دطمعی کښی څوك کله شی نیولی
دهمای د پاره مه ږده دا دامونه خوشـی خـوشی
د مرض علاج په کار دی څه لامنځ کښی له شدته
پس له مرګه څه په کاردی ماتمونه خوشی خوشی
زه د عشق په پیاله مست یم محتاج نه یم د شرا بو
ساقی !مه ړکوه ماله دا جامونه خوشـی خوشی
چا حاصله خپل مرام کړ، په قوت د خپلو مټو
څوك دی ناست، کوی په زړه کی ارمانونه خوشی خوشی
په شهباز سره د شعر به تازه د ژوند نغمه کړ و
دارباب د زړه غګیږی ډیر عمرونه خوشی خوشی
دفرهادتیشه په لاس کړه که شیرینه معنی غواړی
پراته کله وی ایرو کښی ،سره لعلو نه خوشی خوشی
چی روان تر اوبو نه وی، او ژور هم له دریابه
نه پوهیږم څله وابی دا شعرو نه خوشی خوشی
د انقصان د شعر ندی له خپله ذوقه سراغ وکړه
په «خادم» باندی مه وایه تهمتونه خوشی خوشی

ښاغلی فضل ربی «فرید»

دمینی اور

چې دمینې په لمبو زه ګر فتار شوم
روح پریشانه زړه مې سوی پرانګار شوم
عاشقی مې خزانه بلله پټه
چې عاشق شوم ترهغه لاپسی خوار شوم
مینتوب که لیونتوب دی نه پوهیږم ؟
لازلمي یم بیاله ژونده نه ویزار شوم
ماد مینی رنځ ونه لیده په ستر ګو
روغ رمټ یم پټ په زړه ګوره بیمار شوم
په تقصیر باندی پوه نه شومه چې څنګه؟
دهر کس اودنا کس دستر ګو خار شوم
دځوانی هوس خندا را ځینی پاتی
در په در ګرځم زبون په زړه افګار شوم
نه مې یار شته نه مې ورور نه بل ملګری
دهرچانه ګوښه تللی بر کنار شوم

(د ۱۳ مخ پاته برخه)

کمرو څخه په ضروری وختونو کی کار اخستل کیږی .

ددغی کمری دیوی ثانیی عکس اخستل شپږ میاشتی کار غواړی دپاره پخوا تر پخوا یو نیم څوچه اخستل شوی عکسونه تر کتنی لاندی ونیول شی په دغه منظور کوم وخت چې غواړی ددغی کمری دعکسو نندارہ وکړی اوله عکسو ملیون ثانیی وخت تاکل څخه یی په زړه پوری استفاده وشی نو د دغه کار کیږی .

ښکلا

کومه جذبه اوخوشحالی چی د ښکلا او ښایست په لیدلوسره پیدا کیږی دانسان دعمر په اوږدولو کی مرسته کوی ، څوك چی دفطرت په ښکلا مین وی، هرسهارچی سپیدی راپورته شی دلمر خاتوته څارووی دسپوږمی په شپو کی ټوله شپه دسپوږمی دښکلا اوجمال ننداره کوی دتیاری او تروږمی په شپو کی دستورو په ښکلا زړه بایلی دروڼ اوصاف اسمان په لیدلوسره خوشحالیږی دسپینو اوتورو وریځو دغونډیو نه خوند ونه اخلی دغرونو ، دښتو اوجلګو په تازه ګی اوسمسور تیاخپل غم اوخپګان ورکوی اوموټی موټی غوښی اخلی .

کله چی په سپینو واورو اوتورو وریځو آسمان پټ شی نودی ورته خاندی وهوسیږی .

« تاګور »

«له هرچا نه لیری»

رټل اورټل کیده یوهم ښه نه ګڼم اوله دواړو نه کرکه لرم - دچا اطاعت نشم کولی اوله چا نه اطاعت هم نه غواړم .

هغه چی له ځانه نه ویریږی بل هم نه ویروی .

په نورو باندی هغه: څوك حکومت کولی شی چی نور ویروی زه به څنګه دغه کار ته زړه ښه کړم چی د خپل ژوند په اداره هم نه یم خوښ زه غواړم چی دځنګله یادسیند حیوانا توغوندې یوه شیبه ځان هیر کړم چیرته یواځی کښینم .

له خپلو لیری اوږدو رؤیاؤ سره مشغول شم .

خپل ځان له ډیر لیری ځایه دلټه راوبولم .

له ځانه زړه وشکوم اوبی له ځانه له بل چا سره مشغولاونلرم .

«لیلی الن»

❀ ❀ ❀

ښاغلی «ځیګر»

چی روڼ سحر ته سترګی واړومه

زه چی دلبر ته سترګی واړومه
ګویا چی لمر ته سترګی واړومه
شی را معلوم دی حقیقت دوعدو
چی روڼ سحر ته سترګی واړومه
را سره نشته حوصله د دیدن
چی دیار در ته سترګی واړومه
ستا د قاصد می پری ګومان راشی
چی هر بشر ته سترګی واړومه

کړمه بې واکه ستا بڼو ته دعا
چې خوږ «ځیګر» ته سترګی واړومه

د انسان د عمر د اوږدوالی راز

ډیره موده کیږی چی بشر د زوړوالی او زړښت په شاوخوا کی کتنی او پلټنی کوی او د نړی په لویو آزمویښتونو کی یو شمیر پوهانو خپل عمر د زوړوالی د علت د پیدا کولو او د هغی د مخ نیوی او د دارو کولو لپاره صرف کړی دی او د بشر د امدالومه همیشنی هڅه داده نښی ته نژدی او د کاناډا د علمی پلټنو د موسسی غړی هانس شلی مثبتو نتیجو ته رسیدلی دی .

داډاکټر عقیده لری چی زوړوالی د بدن د سلولو د زړښت په اثر منځ ته راځی نو که چیری وکړای شو چی سلول په داسی محیط کی

چی میکروب و نه لری وساتو له منځه نه ځی او په طبیعی ډول سره به خپل ژوندانه ته دوام ورکړی نوموړی پوهاند د دی نظر یی د اثبات لپاره دیو شمیر موږ کانو

او نورو حیواناتو سلولونه د حیاطی شرایطو تر اصولو لاندی واز مویل څرګنده یی کړه چی د تل لپاره یی خپل ژوند ته دوام ورکړیدی

او کیدای شی چی د نوموړی فرضیی په مطابق د سلولو د ودی او د ژوندانه محیط اصلاح کړای شو د عمر د اوږدوالی په راز پوهیدلی یو او ممکنه ده چی د

بشر عمر له ۱۵۰ نه تر ۲۰۰ کلو پوری هم ورسیږی .

د زړوالی ضد واکسین :-

د علمی آزموینو په لړ کی غالباً یوه پوښتنه منځ ته راځی او هغه داده چه که چیری د پلټولو تحقیقاتو بودجه زیاته شی ایا د ډاډ وړ ده .

حقیقتاً یوې مثبتی نتیجی ته د رسیدلو لپاره پوهان اړدی چی د یوه شمیر آزموینو څخه کار واخلی کله د دې آزموینو یو زیات شمیر منفی نتیجی ورکوی

اما د هغوی سر ته رسول اجباری دی نو لدی کبله زیاتی بودجی د رلو دل سره د دی چی د بریالیتوب لاره پاکه او هواروی ولی دا ادعا نشو کولای چی هغه روغوی ځکه چی یوه کار ته د رسیدلو لپاره وخت ضروری او حتمی دی د مثال په توګه .

د ډاکتر ی یوه ازموینه وروسته له هغی چی کشف شی نه شو کولای چی سمدستی یی پر انسان تجربه او وی آزمویو بلکه دا لازمه ده چی د بیلو

بیلو څارویو څخه یی شروع او همدارنګه د حیواناتو د عکس العمل د غور لپاره هم یو وخت لازمی دی او پر لپسې یی د مثبتو نتیجو د لاس ته راوستلو نه کولای شو چی په پوره پاملرنه یی پر انسان باندی و آزمویو .

د ژوند او مرګ رشته :

په بدن کی یو لړ سلولونه شته دی چی د هغوی فساد د مرګ مبداده نو کله چی د هغوی د تغذیی په لړ کی اختلال او خرابی پیدا شی زوړوالی شروع شی او که د اختلال او خرابی تاخیر شی او یا یی خراب شوی قسمتونه ترمیم کړو او د هغوی پر ځای سالم او جوړ غړی ځای کړو نو زوړوالی موځای پر ځای درولی دی د ژوندانه د دی رشتی کشف لومړنی ګام او د هغی په جوړښت پوهیدل د بریالیتوب وروستی ګام ګڼل کیږی .

دادی د دی رشتی شته والی څرګنده او د هغی زیاد شمیر متشکله مواد هم ښکاره او کشف شو یدی نو لدی کبله ډاډه یو چی په کمه موده کی به د طبیعت دا راز هم د پردی نه راڅرګند شی .

دنړی له هیوادونو سره اشناسی

دمونیخ دښار معجزه

د ۱۹۶۲ کال دمسافرینو او توریستانو بیلانس یو وار بیا تصدیق وکړ چې د جرمنی د لویو ښارونو په منځ کې میونیخ مخکښې او نسبت نورو ښارونو ته زیات لیدونکی لری . تیر کال د فلور الی المان د جمهوریت احصائیوی اداری راپورټ ورکړ چې ۱ر۶۸ ملیون توریستانو لدغه ښار څخه لیدنه وکړه او ددوی په منځ کې (۵۳۴،۹۲۶) تنه خارجیان وه .

هر کله چې نور ښارونه خوشحاله ووچې ددوی د لیدونکو په شمیر کښې په سلو کښې دری یا څلور تنه زیاتوالی راغلی ؤ د میونیخ د توریستانو بیلانس په سلو کې (۱۲ ر ۲) پـــه زیاتوالی وښود او حتی د خارجیانو شمیر نژدی ۱۳ر۴ ته په سلو کې ورسید.

هامبورک لـه ۱ر۳۲ ملیونو لیدونکو سره دوهم ځای نیولی دې اما دهغه لیدونکو په شمیر کې یواځې په سلو کښې ۱،۳ زیاتوالی راغلی دی فرانکفورت (۹۵۴۰۰۰ تنه لید و نکی او کولون ۷۱۸۰۰۰ تنه لیدونکی د خپلو حالاتو څخه چې ډیر کم زیاتوالی لری او په سلو کې (۰،۶) او (۱،۳) دی ساتنه کوی او حتی د هغو خارجیانو شمیر چې دغه دوه ښارونه ئی لیدلی دی ډیر کم دی .

په یوه لیدنه کې چې د کولون په ښار کښې وشوه خبریالانو وویل چې (د میونیخ نتیجې معجزې او معماوی دی).

غربی برلین په ۱۹۶۲ کال کې د (۵۱۲،۷۸۷) تنو مسافرینو له خوا ولیدل شو چې ددوی په منځ کې (۱۳۶،۶۴۰) تنه خارجیان وو.

دجرمنی د ۴۹ لویو ښارونو په منځ کښې د جرمنی زوړ پایتخت له پورتنیو ښارونو څخه وروسته او پس له دویزلدورف (۵۵۵،۵۲۲ تنه لیدونکی) او تسټټ ګارت (۵۵۲۴۲۵ تنه لیدونکی اما له هارونو څخه مخ کې چې (۴۲۴،۵۲۷ تنه لیدونکی) لری صف بنای شوی دي .

له دغه کبله برلین په دغو لستونو کښې اوومه درجه نیولی د ه .

څرنګه چې لست کاملا مختلف د ې نو که موږ دتیرو سویو شپو شمیر ته چې دتوریستانو او نورو لیدونکو له خو اتر اوسه پوری په دغو ښارونو کښې سوی دی وګورو دلته هم د میونیخ دلیدونکو شمیر ۳،۴۲ ملیونو ته رسیږی او له دغه حیثه لمړی در جه نیسی او وروسته له میونیخ نه هامبورګ (۳،۷ ملیونه) او فرانکفورت (۱،۷۴ ملیونه) لیدونکی لری او پسله دغو څخه څلورمه درجه برلین نیولی ده چې (۱،۵۱) ملیون ته ئی دلیدونکو شمیر رسیږی مسافرینو او لیدونکو پـه برلین کښې معمولا ډیرې ورځې نسبت نورو ښارونو ته تیری کړی دی .

دلیدونکو او توریستانو یو ډیر ستر شمیر د (باواریا) پواسطه سره چې ۷،۸ ملیونه ثبت سوی دی او وروسته له دغو نه د (بدن ویرتم بیرګ) (۶،۰۰) او (نارت زاین ویست پالیا «۵،۴۵» ادهسن ۳،۷۸) میلونو لیدونکو شمیر ثبت سوی دی .

بناغلی (غرزی)

پانامه و پیژنی

پانامه یو جمهوری هیواد دی چی د مځکی ساحه ئی ۷۴۴۷ کیلو متره او د ۹۶۲ کال په پای کی ئی نفوس ۱،۱ ملیون و. عمده واردات ئی غذائی مواد دی چی د ټولو وارداتو په سل کی ۶۰ تشکیلوی دوریجو کرهنه پکښی رواج ده خود صادراتو مهم قلم ئی موز دی.

پانامه د مرکزی امریکا په جنوب کی پرته ده او مرکز ئی د پانامی ښار دی.

ختیځ او جنوب ته ئی د کولمبیا هیواد، لویدیځ او شمال ته ئی د کوستاریکا هیواد پروت دی.

د پانامی کانال ارام بحر او قیانوس اتلس په مرکزی امریکا کی سره مښلوی او د امریکا د بحریی د پاره یو حیاتی اهمیت لری.

ځکه که د کانال نه وی بیړیانی مجبوره دی چی پر جنوبی امریکا باندی راوګرځی خو په بحر اتلس کی بند رو ته ځان ورسوی.

د پانامی اوسیدونکی په سل کی ۶۶ میستایزان ۱۴ تور پوستی

۱۰ سپین پوستی او لس هم محلی هندیان دی.

د پانامی د کانال منطقه له ۱۹۰۳ کال څخه تر نا معلومی مودی پوری له امریکا څخه په اجاره ده او امریکا په دی سیمه کی خپل حقوق او اداری روش چلوی. د کانال ئی د اجاری ټول مبلغ ۱،۹ ملیون ډالره ته رسیږی او څرنګه چی د کانال مستقیمه اداره د اتازونی په لاس کی ده نو د کانال ئی ۷۰ ملیون ډالره د سانتی دلګښت له درکه پر غاړه دی.

په ۱۹۶۴ کال کی جمهور رئیس روبر توچیاری د امریکی له جمهور رئیس څخه د کانال د استر داغوښتنه وکړه او ضمناً ئی د اتازونی د حقوقو تضمین هم وکړ خو خبره دغسی پاته وه خو اوس سره وښوریدل.

پانامه چه د ۱۹۵۴ کال د نومبر پر ۱۲ د ملګرو ملتو غړی سو ي ده د امریکائی هیواد و د موسسی غړی هم ده پر دی موضوع د امریکائی هیواد و د موسسی له خوا یو هیئت د کتنی د پاره ورغلی و و

داسی یوه

دستګاه نوی جوړه سوی ده چی په مریخ کښی د ژوند کولو امکانات معلومولای سی

په دی وختو کښی امریکایی پوهانو د «کولیور» په نوم یوه ذره بینی ډیره دقیقه د ستګاه جوړه کړی ده دغه د ستګاه د پوهانو هغی ستری غونډی ته وړاندی شوه چی په ورشو کښی جوړه سوی وه.

د دستګاه وزن له یو کیلو ګرام څخه لږ دی او د یوی فضائی بیړی په وسیله سره به د مریخ په کری کی په کار واچوله شی.

د دغی دستګاه یوی بلی نمونی چی په کالیفورنیا کښی جوړه شوی وه په زړه پوری نتیجه ورکړه.

د دغی دستګاه د کار اصول داسی دی چی د ذره بینی موجودات یوی کروندی ته ورننوزی او د شیمائی فعل او انفعالاتو په اثر د رادیو ناکیو کرینهک ګاز تولیدوی او یوه بله آله د دغه ګاز وجود ټاکی ورسته له هغه الکترونیکی دستګاه دستایلی شوی دستګاه د کار نتیجه مځکی ته مخابره کوی.

د خندا !!!

پلوش

د محمد ناصر [نصرت]
ژباړه اوټولونه

خواجه

څو نجونو د کورنی سبق په کتابو کی د(خواجه) لغت لیدلی او یو وخت ئی له معلم څخه پوښتنه وکړه چی خواجه یعنی څه ؟

معلم ئی ورته وویل :

خواجه هغه چا ته ویل کیږی چی نه نروی نه ښځه.

شاګرد ئی ورته وویل . دا څرنګه کیدلای سی چی یو څوک دی نه نروی نه ښځه ؟

آخر معلم ورته وویل : مقصد دادی چی نه بد شکله وی نه ښکلی.

له شاګردانو څخه یوی نجلۍ چی دغه لغت ارویدلی او په حافظه کی ئی ناست ؤ. یوه ورځ څو کسه ددغی نجلۍ د مشری خور دغوښتلو د پاره کورته ورغلی ، او یو نفر له همدغی نجلۍ یعنی له کشری خور څخه پوښتنه وکړه :

چی آیا ستا مشره خور ښکلی ده که بد رنګه؟

کشری خور جواب ورکړ چی نه یم خبره. آخر خلګو په ټینګه ورته وویل چی ښه ووایه څه شی ده ؟

نجلۍ په دغه پلا جواب ورکړ چی (خواجه) ده .

✡ ✡

د خره پالانه

یوه ورځ ملا نصرالدین په داسی حال کی چی دولی پر غاړه ئی او دس تازه کاوه خپله چپنه ئی کښلی. د خره پر پالانه ئی کښیښوو له په دی وخت کی یو لاروی غله چپنه اخیستی یو ئی وړه . کله چی ملا له او دسه خلاس شو وئی

لیدل چی چپنه نشته ډیر عصبی شوی د خره پالانه ئی را اخیستی ، او چی پر خپلو او ږوئی کښیښوله نو خره ته ئی وویل :

هر کله چی دی زما چپنه را کړه ستا پالانه به در کړم .

✡ ✡

شکر چی لس بجی نه وی

یو ملګری له بل ملګری څخه چی سر ئی تړلی ؤ پوښتنه وکړه چی دا سر دی څله تړلی دی؟ خو ږمن ملګری په جواب کی ورته وویل چی :

برایی می له یو بو کسلر څخه د بجو پوښتنه وکړه هغه دوه کلك سو که ووهلم. چی یعنی دوی بجی دی .

ملګری ئی ورته وویل : چی ښه نو تا څه په وکړه ؟

خو بومن.... هیڅ: فقط خدای تعالی ته می شکر ویوست چی لس بجی نه وي .

✡ ✡

حاضر جوابی

یو کلیوال چی تازه ښار ته راشیوه شوی و دیو صراف مغازی ته ورختلی، او چی هر پلو ته ئی کتل بی دقیمتی پیسو اوسیکو څخه ئی بل شی نه لیدی ، وروسته ئی په ډیر تعجب د مغازې خاوند ته مخ ورګرزولی ، ورته وئی ویل چی:

دلته څه شی خرڅوی؟ .

مغازه لرونکی چی پوه شو دایو اطرافی سړی دی نو ورته وئی ویل چی :

«خره خرڅوو»!

کلیوال ژر په ژره ورته وویل چی:

ښه! لطفاً وفرمایاست «بیه مو» څوده ؟.

✡ ✡

عجب خیرات

وائی چی ملا نصر الدین له دو تنو دنیادارانو سره حج ته تللی و. دحج تر مراسمو وروسته په آخره ورځ سها وچی ملا او دوه دنیاداران سره ناست وه نو یوه شته من وویل ما ددی مبارك حج په صدقه کی خپل زنګی نامی مریی آزاد کړ .

دوهم شته من وویل چی ددې مبارکی وظیفی دانجام په صدقه کی زما زینت نومی مینځه آزاده ده .

ملا فکر وکړ چی نه مریی لرم نه مینځه.

نو ئی سمدستی وویل چی زه خو بل څه نه لرم نو پر ما خپله دهلکو مور طلاقه ده .

✡ ✡

ناکامه حیله

یو بی لاری سړی چی زیاتره به دشپی په عیش او عشرت اخته و، ډیر ناوخته کورته ئی چی له همدی امله به هر وخت دښځی ترعتاب لاندی و پوه شپه چی خورا ناوخته کورته ورسید د سرای په دروازه کی ئی بوټونه کښلی کرار، کرار خونی ته داخل شو او چی غلی غلی ئی دوړو کی زوی وزانګو ته ځان ورساوه ، دهغه په زنګولو اوللو، للوویلو ئی شروع وکړه .

په دې ترڅ کی ئی دښځی ورته پام شوی او پوښتنه ئی وکړه خیر دی؟

سړی ئی په خوراخښم ورته وویل :

خاوری دی دداسی مور پرسرسی ، یو ساعت کیږی چی هلك دزړه له درد څخه په یوه ناره او ته د مرګ په خوب بیده ئی !

دادی زه مجبوره شوم تا لونه ورکوم چی آرام سی .

ښځی ئی پرېږغ کړه ، څه ځه ورك سه ساده سړیه! هلك زما په غیږ کی لکه وری بیده دی نه په زانګو کی ...

✡ ✡ ✡ ✡

ښاغلی «لایق»

سرچی جنون د آزادی نلری

نا مینده زړه می انتظار باسی
ما غزه می جور د خمار باسی
ستړی ستومانه آزرده مړو ندمی
جفا درزم او د ښکار باسی
زړه چی درد مند شی خو ناری به کوی
سیلاب چی و خوزی خو لار باسی
د رقیبانو بی پایی ظلمونه
موږ مرحلی ته د قیمار باسی
ساقی راواړوه کاسی د میو
سترګی می طمعه د دیدار باسی
ای له عالمه آزرده پښتونه
ای ویر ځپلی غمزده پښتونه
سترګی لمبی وهی چی تا ته ګورم
ای غولېدلی ای ساده پښتونه
د ژوندانه له سیره پاته شولی
په دراندهٔ خوب کی بیهوده پښتونه
کله به پاڅیږی مزل به کوی
ای د مرګی په خوب ویده پښتونه
په زولنو کښی به حیات څه وی
د اسیر قوم به صفات څه وی
سرچی جنون د آزادی نه لری
د داسی عقل به نجات څه وی
که کام بی عقله بی شعوره وی نو
فرق به د زهر او نبات څه وی
په غلامی کښی به پښتون څه کوی
د دی پښتون به ثمرات څه وی
آیا پوهیږی د پښتون بچیه
چی په پرده کښی به نبات څه وی

(پاته ئی په ۲۶ مخ کی)

هند یا د عجایبا تو مځکه

هند و ستان یو پراخ هیواد دی چې د شمال له خوا د همالیا له واورو ډکو غروڅخه بیا د جنوب خوا ته د تودو سمندر ترڅنډو پوری پروت دی یوی خوا ته ئی د سرو ریګو ډکی صحراوی اوبل لور ته ئی د ګڼو ونو پوښل شوی ځنګلونه واقع دی د دی ټول هیواد پراختیا (۱۲۶۹۶۴۰) کیلومتر و ته رسیږی او پر دغه پراختیا د ا حصا ئیی له مخی (۴۳۹) ملیونه خلک ژوند کوي او د انفوس په نړي کی د دولسی چین تر هیواد وروسته غیر له هند څخه بل هیواد نه لری .

هندوستان د عجایبا تو مځکه ده پر دی مځکه په سلها و مختلف ولسونه راټول شوی او د مختلفو عقایدو او د یانو پیروان ژوند کوی د ا خلک مختلف رسومات عادات او کالی لری یو لویدیځ ګر زیدونکی وائی هغه وخت چی یو خارجی سړی د هندوستان په خاوره کښی داخلیږي هلته د عجا ئبو شیانو سره مخامخ کیږی ، یعنی د بشریت له ابتدائی ژوند څخه نپولی بیا د نننی مدنیت تر اخرینی مرحلی پوری د هری دوری نمونی لیدلای شی او همدا وجه ده چی په لویدیځه نړي کښی هر هغه څوك چی د هند نوم او ری سم دستی ئی د هغه د لیدلو ارزو راوینیږی .

مؤرخین ټول پدي عقیده دی هغه وخت چی شمالی خو او د طبیعی انقلابا تو په سلسله کښی خپل تودوالی په سړو اړاوه او د انسانانو مهاجرت د جنوب پر خوا را روان ؤ، د دی هجرت په لړ کښی یوه لویه ډله د آریایانو په نامه د نننی افغانستان شمالی برخو ته راغله او دلته ئی د یو با ستا نی مدنیت پایی کیښوولی او له دغو خلکو څخه یوه لویه ډله د هند پراخوا رشوکانو ته شیوه سوه او په هغه ځای کښی ئی د یو درانه مدنیت اساس کښیښوده دوی چی هلته د ډیری ارامی او خوښی سره مخامخ سول نو ئی د خپل اجتماعی نظام اساسات په ښو پایو را پورته کړل او د ا جتماعی طبقا تو د توازن له پاره ئی ځینی قوانین وضع کړل او په هم دغه شکل سره یو زوړ کتاب چی «ویدا» نو میږی منځ ته راغلی دی البته د دی

✡

ګوره سستی مکړه چی وار کم دی
فرصت د ننګ او افتخار کم دی
تا ریخ د وباره ګر زیدلای نشی
له دی ظالمه انتظار کم دی
په دی نارام او مضطرب ژوند کښی
د لاری مل او دزړه یار کم دی
په دی ګامو نو رسیدلی نشی
په دغه تګ کښی ابتکار کم دی
هیره مې نکړی وروستنی خبره
چی وخت د منلو او د کار کم دی

کتاب جوړیدلو یقینی وخت معلوم نه دی مګر د قیاس په اساس مورخین دا کتاب د اریایانو د افکارو ډیر ښه محصول بولی .

تردی راوروسته د هند اریایانو د ژوندانه د ښه تیریدلو له پاره وسایل راوایستل او کله چی زمانه تیریده او انسانان د بدویت له خوبو څخه را ویښیدل د هند قصی د نړی هری خوا ته خپریدلی مخصوصاً هغه وخت چی په هند کی د مغولو شاهی دوره شروع شوه او د کوم مدنیت آثار چی ئی ودرول ، د لویدیځی نړی نظر ئی ځانته واړاوه او په لومړی سر کی د فراری هند د تسخیر له پاره اراده وکړه خود عمل په میدان کی انګلستان د هند پر نیولو کامیاب شو او له نن څخه تقریباً دوه سوه کاله د مخه د لویدیځ امپریالیزم له خواد بیلو بیلو استعماری پلانو په تعقیب هند د اروپائی امپریالیزم په جال کښیوت پدی وختو کی هغه فجایع چی د هند پر ملت اجرا سول البته تاریخ ئی جزئیات ښه ترابیا نیولای سی .

مګر د هند ملت چی د زرها ؤ کلو تجربه کاره ملت ؤ د خپل ځان د خلاص والی د پاره ئی داسی یورول بازی کړچی د نننی نړی د نهضتو په تاریخ کی بی سابقی شکل لری .

د لویدیځ امپریالیزم سره مجادله پخوا په انفرادی شکل روانه وه خو په ۱۸۸۵ کال کی د هند ازادی غوښتونکو د کانګرس کوند تاسیس کړ دی کوند تقریباً د ۶۰ کالو په مده کی هند وازادی ته ورساوه

د هند لوی رهنما مهاتما ـ ګاندی د هند ملت د ازادی د حاصلولو له پاره په خاصه تربیه روان کړ د عدم تشدد په قوت په داسی حال کی چی امپریالستانو د دوی زلمی او پیغلانی ترمرد کوو لاندی نیول د دوی اراده ئی ماته نه کړه او دا ؤ چی ۶۲ کاله وروسته یعنی په ۱۹۴۷ کال کی ازاد هند اعلام شو د هند د تاریخ دا برخه ډیر غمجنه ده ځکه په ورو ستی مرحله کی د هندوستان د هندوانو او مسلمانانو سره لویدل چی لویدیځ امپریالیزم د خپلو بدو مقاصدو د پاره استعمالول ، د ختیځ په تاریخ کی دیوی «ویرنی» حثیت لری .

کله چی ازاد هند منځ ته راغی د هند زمامدارانو په ملی قوت د هند د بیاودا نولو له پاره په عمل پیل وکړ ، د مهاتما ګاندی ډیر ورتیر ملګری جواهر لال نهرو د صدراعظم په حیث وټاکل شو او د ملی اقتصاد د تفوق له پاره اقتصادی پلانو نه تر تطبیق لاندی ونیول شول چی د هغو په نتیجه کښی یی دادی هند مخ پر ترقی ډیر چابک ګامونه مخی ته اخلی مخصوصاً په هند کی د کلیوالی پروګرامو په باره کښی چی هند موفق ی هغه د ډیری ستاینی وړ دی او نن د نړی ډیر رسید لی هیوا دو نه خپل په کلیو کښی د هند د پروګرامو له تطبیقی برخی څخه استفاده کوی .

د هند د حکومت طرز جمهوری دی او ۱۶۵ ـ ایالتو له اتحاد څخه د جمهوریت تشکیل شوی دی چی په دی ایالاتو کی د اسی هم شته چی تر انګلستان یا ایتالیی ئی مساحت ډیروی د اجرائیی قوه د وزیرانو په لاس کی ده او د پارلمان په مقابل کی مسئول دی پارلمان له دو مجلسو راجیا سابها « سنا » او لوک سابها «د نمایندګانو مجلس» څخه جوړ شوی دی .

دیو شوروی پوه په عقیده:

انسان د سپوږمی په کره کی

مشتیدای سی

دغه شوروی عالم وایی چی د تصور په خلاف د سپوږمی کره د مځکی د کری په څیر توده ده کیدای شی هلته د انسانانو د پاره هستوګنځی ورکړو.

دغه شوروی عالم چی (نیلا کوریرو) نومیږی د شوروی اتحاد په یوه علمی مجله کی ئی دغه موضوع په مفصل ډول تر څیړنی لاندی نیولی ده دی پخپله په دغه مقاله کی لیکی چی ده خپل دغه معلومات د (اسپکتوګرافی) په وسیله سره لاس ته راوستی ذی او پرله پسی یو کال ئی په دغه برخه کښی څیړنی او کتنی کړی دی.

دی لیکی چی د سپوږمی

د کری له منځه څخه د ګازونو د خپریدو په اثر د سپوږمی د کری شا و خوا د ننني برخی تودیږی او د انسان د میشتیدو د پاره د

سپوږمی په کری کی استوګنځی غوره کولای او ټاکلای شو.

د «کوزیرو» په عقیده داسی معلومیږی چی هایدروژنی ما لیکیول په زیاته اندازه د سپوږمی په کره کښی موجود دی چی د هغو د موجودیت په اثر د سپوږمی په کره کی حرارت موجود دی.

د لمر وړانګی

آیا ولی د لمر وړانګی سره چی د لمر او مځکی تر منځ ډېره فاصله موجوده ده خپله انرجی د لاسه نه ورکوی

رشتیا ده چی لمر زموږ څخه ډېر ملیونه کیلومتره لیری دی مګر کومی وړانګی چی له لمر څخه مځکی ته راځی نو د ځمکی د نژدی برخی څخه غیر په نورو برخو کښی له کوم مقاومت سره نه مخامخیږی ځکه ساینس پومان وائی چی خارجی فضا یوه داسی برخه ده چی بیخی خالی او داسی موجود ورکی نشته چی هغه د لمر د وړانګو سره تماس کی راسی او د هغو د کراریدو او انرجی د ضیا باعث سی ځانله له مځکی څخه لږ څه لیری اتما سفیر دی چی هلته د لمر وړانګی د نورو ذراتو سره په تماس کی راځی او څه اندازه د هغو سرعت او انرجی لږوی اتما سفیر په عمومی ډول د ماورای بنفش وړانګو مانع ګرځی او نه پرېږدی چی نومړی مخربی وړانګی په زیاته اندازه د ځمکی سطحی ته کښیوځی.

که چېری اتما سفیر د ماورای بنفش د وړانګو مانع نه ګرځیدای نو په مځکه کی ژوند امکان نه درلود.

د لمر د وړانګو سره چی د لمر د کری په زړه کی کوم موانع مخامخیږی نو هغه دومره زیات ډی چی دا اتما سفیر د موانعو سره مقایسه کیدای نسی.

کله چی د لمر وړانګی د لمر د مرکزی برخی څخه سطحی ته راوځی نو دوی د بلیونو بلیونو تصادمونو او تغیراتو سره مخامخیږی هغه وخت چی د لمر وړانګی له مرکز څخه سطحی ته په مغیره بڼه راوځی نو ملیونونه کلونه طی کوی د لمر وړانګی د لمر له سطحی څخه مځکی ته په اتو دقیقو کی رسیږی او د لږ وخت په دی دلالت کوی چی نومړی وړانګی د مځکی او لمر تر منځ له کومو تغیراتو سره نه مخامخیږی او پدی ډول خپله انرجی ساتی.

د کندهار د هنري...

د ۲ مخ پاته

ښي تابوګانی کښلی وې خو له بیری ئې نسوای ښکاره کولای څو بالاخره مړشو او هغه تابلوګانی به اغلبا له منځه تللی وی خو زموږ دښار ښه ډېر خلګ دده په هنر خبر وه، په ځوانو هنرمندانو کی موږ نن ښاغلی عبدالهادی [تپاند] لرو چی تراوسه د ښوونځی زده-کوونکی دی او د ترسیم سوی تابلوګانو څخه ئې اکثراً د کندهار په مجله او طلوع افغان کی استفاده کیږی.

دریم: [موسیقی]
(آهنګ جوړول)

د کندهار پخوانی شاعران اکثراً آهنګ جوړونکی هم وه مثلا مرحوم حاجی ولی محمد [مخلص] د خپلو غزلو لپاره پخپله آهنګونه جوړول چی دده د وخت ترانی ډېر شهرت لری. پدې بې عبدالله شاعر ؤ چی آهنګونه ئې ترنن پوری زموږ د پیوراوسالی موسیقی ستوری باید وبولو که څه هم نن زموږ ټوله غزلی د آهنګ په لحاظ د نورو ځایو د موسیقی تر اغیزې لاندی راغلی دی خو د عبدالله شاعر آهنګونه بیا هم د ترنګو ترونګ په محافلو کی ژوندی دی داچی اوس څوک لرو نو زه ګمان کوم چی څوک به نه لرو او که اغلباً یو څوک موجود هم وی د هغه نقش به ډېر کم بلکی هیڅ وی.

څلورم: [مجسمه جوړول]

مجسمه سازی دلته لکه رسامی نه یوازی یو نوی فن دی بلکی څوک بیخی ورسره اشنا نه دی پدغه نااشنائی کی موږ عبدالرحیم [ننګیالی] غوندی یو هنرمند انسان لرو چی مجسمی ئې جوړی کړی دی خو څرنګه چی دا هنرونه دلته تر وخت پخوا دی چا ارزښت ندی ورکړی او نن دغه مجسمه ساز او بهترین شاعر، ډېر ښه خطاط او ظریف انسان هلته لیری د فراه پر دښتو میرزائی کوی.

بل مجسمه ساز زه پخپله په کندهار کی نه پېژنم او نه هم ګمان کوم چی موجود دی وی د ښاغلی ننګیالی د مجسمو په جمله کی د یوه کارګر مجسمه ډېر په زړه پوری ده چی د واقعیت خورا ډېری نازکی پکښی مراعات سوی دی.

پنځم: [تمثیلی هنر]

که د تمثیلی هنر د هنرمندانو په معرفی کی دلته د [سکندر او سنګر] نومونه واخلم ښایی چی په ادب کی اشنا خلګ به می پدې نه ملامتوی چی د صوفی عبدالحمید او میرعطا محمد شاه یا ملا عبدالرحمن او ننګیالی په اړخ کی زه د هغه چا یادونه کوم چی په کلو، کلو ئې خلګ پخپل هنر خوشحاله ساتلی خو هغو په سپکه سترګه ورته کتلی دی.

دلته خبره د هنر ده، هنر په علمی لحاظ هغو څانګو ته وېشل کیږی چی پورته یادی شوې او تمثیلی هنر هم د هغو له جملی څخه دی داچی سنګر او سکندر په کندهار کی د دغه مکتب مؤسسین دی نو باید عادی خبره ونه ګڼل شی.

سکندر د خپلی ټولی بېسوا-دی او بی خبری سره د تمثیل هنر په کندهار کی ژوندی ساتلی ؤ او اکثره پارچی ئې داسی انتقادی وی چی په ظاهره باید سړی پر خندلی وای خو په باطن کی ئې لویه انتباه سړی ته ورکوله.

همداسی سنګر لېونی د رواخله داسړی د زابل څخه د کندهار او روزګان، هلمند او فراه په ولا-یاتو کی هر کلی او ز کور پېژنی او هر څوک چی د «کندهاری شکور ماما» ماجرا دده په مونولوګ کی ووینی نو د هیواد د تاریخ یوه پر ماجرا پاڼه به ئې لوستی وی.

داوه زموږ د ښکلو هنرونو یوه خلاصه چی یا په کندهار کی موجوده وه او یا اوس هم سته خو خبره زموږ ونوی نسل ته ده چی هغوی د هنر په ساحه کی کوم قدم ایږدی او څرنګه به ئې ایږدی؟ صرف په خاتمه کی باید ووایم چی موږ هم هنر ته احتیاج یو او هغه هنر ته چی د ژونده حکایت وکړی تر څو پدغه لار زموږ په کلتور کی ترقی راشی او د کلتور په ترقی کی نو هغه خبری زیاتی پرتی دی چی ژوند رونق پر پیدا کوی.

KANDAHAR

MONTHLY MAGAZINE

OFFICE:-

PRESS DEPARTMENT

KANDAHAR, AFGHANISTAN

EDITOR: ZALMAI 'BARAK'

(JUNE) 1968

GOVERNMENT PRESS

مؤسس: محمدولی [زلمی]

د امتیاز خاوند: د طلوع افغان نشراتی مؤسسه

مسئول مدیر: زلمی (بارک)

کندهار

میاشتنی خپرونه

تاریخی، اجتماعی، علمی، ادبی

اداره: د شهیدانو واټ

د تاسیس کال ۱۳۳۹

د ۹ کال د ریمه ګڼه

کالنی بیه

په کندهار کی [۲۸] افغانی

دهیواد په داخل کی [۳۲]

په دباندنیو هیوادو کی یو ډالر

پر له پسی ګڼه ۹۳

د کندهار دولتی مطبعه